هر څه په تقدير باندې دي، تر دې چې تنبلي او ويښتوب او يا ويښتوب او تنبلي

له طاووس -رحمه الله - څخه روايت دی هغه فرمايلي چې: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځينې صحابه كرام وليدل چې ويل يې؛ هر څه د اندازې (تقدير) مطابق دي، فرمايي: او ما له عبدالله بن عمر رضى الله عنهما څخه اوريدلي چې ويل يې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «هر څه په تقدير باندې دي، تر دې چې تنبلي او ويښتوب او يا ويښتوب او تنبلي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هر څه په تقدير دي؛ حتا لټي او تنبلي (ناتواني)، يعنې: د هغه څه پريښودل چې بايد ترسره شي، په هغه کې ځنډ، او د خپل وخت څخه وروسته والى راوستل، د دنيا او آخرت په چارو کې. او حتا ويښتوب، چې دا: د دنيا او آخرت په چارو کې فعاليت او هوښيارتيا ده. او دا چې الله تعالى تنبلي، ويښتوب او هر څه اندازه کړي دي؛ داسې هيڅ څه په کائناتو کې نه پيښېږي مګر دا چې الله تعالى پرې له وړاندې پوه دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65039